مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۲۶/۱۱/۱۰

د امریکا ولسمشر رونالډ ریګن او محمد عمر ببرک زی په مشرۍ د افغان پلاوي تاریخي لیدنه

د لوګر د پادخواب شانه کلي کې خونړۍ پېښه د ملکي وګړو عام وژنه

د افغانستان معاصر تاریخ د داسې ګڼو دردناکو او زړه بوږنوونکو پېښو شاهد دی، چې د شوروي اتحاد د پوځي یرغل پر مهال د افغان ولس پر وړاندې ترسره شوې دي. د دغو پېښو په لړ کې د لوګر ولایت د مرکز اړوند د پادخواب شانه په کلي کې د ملکي وګړو عام وژنه ځانګړی ځای لري؛ یوه داسې غمیزه چې د بېګناه انسانانو د ژوند اخیستلو ترڅنګ یې د جګړې د وحشت او د انساني ارزښتونو د تر پښو لاندې کېدو یوه توره پاڼه هم پرېښودلې ده.



ځیني تاریخي عکسونه یوازې د یوه مجلس انځور نه وي؛ د یوه ملت د کړاوونو، مبارزې او هغو هڅو کیسه هم ورسره تړلې وي، چې غواړي نړۍ یې غږ واوري.

د 1983 کال د فبروري په دویمه د امریکا د ولسمشر رونالډ ریګن او شپږو افغانانو لیدنه له همدې پېښو څخه یوه ده. دا هغمهال و چې افغانستان د شوروي اتحاد د پوځي یرغل او جګړې په اور کې سوځېده، د افغانانو د ژوند، کلیو او کورنیو په اړه د نړۍ په سیاسي مرکزونو کې بېلابېل روایتونه وړاندې کېدل.

د امریکا ولسمشر رونالډ ریګن د ولسمشرۍ کتابتون، د هغه د ورځنۍ یادښتونو او د سپینې مانۍ د رسمي عکسونو آرشیف دا اسناد تاییدوي، چې په دې نېټه شپږ افغانان د امریکا ولسمشر رونالډ ریګن سره د سپینې مانۍ په اوول دفتر(Oval Office) کې ولیدل. د لیدنې اصلي موضوع په افغانستان کې د شوروي ځواکونو له خوا د ملکي وګړو پر وړاندې د ترسره شویو ظلمونو راپورونه ول.

په دغه ورځ شپږ افغانان د امریکې ولسمشرۍ سپینې مانۍ ته ورغلل. هغوی د افغانستان د جګړې په اړه د خپلو تجربو او مالوماتو د شریکولو لپاره امریکا ته تللي وو. د ریګن د شخصي ورځنۍ یادښتونو کتابچې له مخې، د لیدنې اصلي موضوع د شوروي ځواکونو له خوا د افغانانو پر وړاندې ترسره شوي ظلمونه ول. د سپینې مانۍ رسمي عکسونه هم د دې لیدنې نېټه، ځای او د ګډونوالو نومونه ثبت کړي دي.

د دې لیدنې تاریخي اهمیت یوازې په دې کې نه دی چې افغانان په لومړۍ ځل له یوه ستر نړیوال ځواک له امریکې ولسمشر سره کښېناستل؛ مهمه دا هم ده چې د شوروي یرغلګرو پوځیانو د ظالمانه خونړۍ جګړې له ډګر څخه راپورته شوی افغان غږ د امریکا د ولسمشر په رسمي ورځنۍ یادښت کتابچه کې ثبت شو او ټوله نړۍ له روسي وحشتونو او ظلمونو خبره کړل شوه. د 1983 کال د فبروري دویمه مه د تاریخ هغه ورځ چې د مظلوم افغان ولس غږ د امریکا تر ولسمشره او نړیوالې ټولنې تر مشرانو پورې ورسېد.

د افغانستان د معاصر تاریخ په اوږدو کې داسې پېښې هم شته، چې د جګړو تر سیوري لاندې پاتې شوې، خو د قربانیانو درد، د عیني شاهدانو روایتونه او تاریخي اسناد لا هم د هېرېدو اجازه نه ورکوي. د پډخوآب شانه کلي پېښه د همدې خونړیو تاریخي پېښو له ډلې څخه ده؛ هغه پېښه چې د ۱۹۸۲ کال په سپتمبر کې رامنځته شوه او وروسته د امریکایي رسنیو، څېړونکو او سیاسي کړیو پام ځانته واړاوه.

دا یوازې د یوه کلي د اوسېدونکو د وژل کېدو کیسه نه وه، بلکې د افغانستان د هغه اوږدې جګړې یوه دردناکه بېلګه وه چې د شوروي اتحاد د پوځي مداخلې پر مهال د سلګونو زرو ملکي بېګناه وګړو ژوند واخیست او د افغانانو پر ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او تاریخي جوړښت یې ژور اغېزې وکړې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا لیکنه د امریکا ولسمشر د اصلي یادښتونو، د سپینې مانۍ د رسمي عکسونو، د هغه وخت د خبري رسنیو د راپورونو او د لوګر د پیښې په اړه د خپرو شویو ځپرنو پر بنسټ چمتو شوې ده.

د عامو ولسي افغانانو پناه ځای په ډله ییز قبر بدلیدل

په 1982 کال کې د سپټمبر په 13 مه د کابل سویل ته د لوګر پدخوآب شانه په نوم کلی د شوروي ځواکونو د پوځي عملیاتو په ترڅ کې کلابند شو. د پیښې د روایتونو له مخې، کله چې شوروي ځواکونو پر کلي برید پیل کړ، یو شمېر کلیوالو د ځان ژغورلو لپاره د اوبو لګولو په یوه کاریز کې پناه واخیسته. په دوی کې سپینګیري، ماشومان، ځوانان او بزګران شامل وو. دغو خلکو نه د جګړې وسلې لرلې او نه یې د مقاومت توان درلود؛ یوازې یې غوښتل د جګړې له لمبو ځانونه خوندي کړي. خو د هغوي د پناه ځای ډېر ژر د مرګ په یوه وحشتناک ډګر بدل شو.
د عیني شاهدانو د څرګندونو له مخې، کله چې شوروي پوځیانو د پناه اخیستو له ځایه خبر شول، د دې پر ځای چې ملکي وګړي له هغه ځایه راوباسي، د کاریز خولې ته یې سوځېدونکي تېل، کیمیاوي مواد او چاودېدونکي توکي واچول. وروسته یې د ماشینګنو ډزې او چاودنې پیل کړې او په پایله کې یې په کاریز کې دننه اور بل کړ.
د راپورونو له مخې په دې وحشتناکه پېښه کې په کاریز کې پناه اخیستونکي ملکي کسان د اور او لوګي په منځ کې راګیر شول او ګڼ شمېر په خورا دردناکه توګه خپل ژوند له لاسه ورکړ. د عیني شاهدانو په وینا، په دې پېښه کې 105 افغانان ووژل شول، چې 12 ماشومان هم په کې شامل وو. دغه شمېر د کلیوالو د روایتونو له مخې وړاندې شوی او باید د خپلواکو ثبت شوو نومارونو له شمېر سره جلا وڅېړل شي.
د واشنګټن پوسټ تاریخي راپور او د پېښې نړیوال انعکاس راپور له مخې او د امریکایي ورځپاڼې واشنګټن پوسټ ژورنالیست پاتریک ټایلر (Patrick E. Tyler) د 1983 کال د فبروري په 12 مه د دې پېښې په اړه یوه مفصله ځپرنیزه لیکنه د دې سرلیک لاندې خپره کړې:
(The Horrors and Rewards of the Soviet Occupation of Afghanistan)
د پاتریک ټایلر په راپور کې د کلي د مشر حبیب الرحمن هاشمي څرګندوني ځانګړې ځای لري. نومورې د وژل شویو کسانو یو لیکلی نومار له ځان سره ساتلی و، چې د کورنیو پېژندنې او د ورکو شویو کسانو د مالوماتو پر بنسټ ترتیب شوی و.
په دغه نومار کې 61 کسان ثبت شوي وو. د هر قرباني نوم، د پلار نوم، قومي ټراو، اصلي کلی، عمر، کسب او سیاسي ټراو لیکل شوي وو. د نومار له مخې، لس ماشومان هم د وژل شویو کسانو په ډله کې وو.
دا ټکی مهم دی: د کلیوالو د روایت له مخې د وژل شویو ټول شمېر 105 و، خو د کلي د مشر په لیکلي نومار کې 61 کسان ثبت شوي وو. له همدې امله باید د 105 شمېر د پېښې د شاهدانو د راپور په توګه او د 61 شمېر د نومار د مستندو نومونو په توګه بیان شي؛ دواړه شمېرې باید سره ګډې نه شي.
د عیني شاهدانو روایتونه او د پلټنې بهیر: د پېښې د حقیقت موندلو لپاره د پاریس یوې خپلواکې ځپرنیزې ډلې د 1982 کال په نوامبر کې افغانستان ته سفر وکړ. د دې ځپرنې له مهمو غړو څخه یو مایکل اېل ببري (Michael L. Barry)و، چې د منځني ختیځ د مطالعاتو ځپرونکی او د سیمې خلکو په ژبو بلد کس و.
ببري او د فرانسې سوربون پوهنتون د نړیوالو حقوقو استاد ریکارډو فرایلي (Riccardo Fraile) د پېښې په اړه له پنځوسو څخه د زیاتو کلیوالو سره مرکې کړې وې. د ځپرنې یوه برخه د شپې له خوا کلي ته د ننوتلو او د سوځېدلي کارېز د لیدلو په اړه وه.
د راپور له مخې، ځپرونکو د کارېز له دېوالونو څخه تورې او سوځېدلي نمونې هم راټولې کړې وې. هغوي د قربانیانو تازه قبرونه لیدلي او له هغو کورنیو سره یې خبرې کړې وې چې خپل عزیزان یې له لاسه ورکړي وو.
د پېښې په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم خپلواک مالومات ترلاسه کړي وو. د واشنګټن پوسټ په راپور کې ویل شوي و، چې دغه مالومات د کلیوالو له روایتونو سره همغږي وو. دا د پېښې د مستند کولو له مهمو برخو څخه وه.

د واشنګټن سفر او له ولسمشر رونالډ ریګن سره لیدنه

د ۱۹۸۳ کال په فبروري کې د لومړي ځل لپاره د افغانانو یو شپږ کسیز پلاوی امریکا ته ولاړ. د فبروري په ۲مه یې د سپینې مانۍ په اوول دفتر کې د امریکا له ولسمشر رونالډ ریګن سره ولیدل. دا لیدنه د افغانستان د معاصر تاریخ او د سړې جګړې د سیاسي تاریخ له مهمو پېښو څخه ده؛ ځکه افغانانو هڅه کوله چې د خپل هېواد د نابرابره جګړې او د ملکي وګړو د وژنو موضوع د امریکا تر ولسمشر او د نړیوالو سیاسي مرکزونو پورې ورسوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پډخوآب شانه د پېښې له قربانيانو سره د تړاو لرونکو افغانانو دنده يوازې د خپلو وژل شويو خپلوانو د غم بيانول نه وو؛ بلکې هغوی غوښتل د افغانستان د جګړې په اړه د نړۍ پام راواړوي.
د ريګن د ولسمشرۍ کتابتون په رسمي اسنادو کې او د رسمي عکسونو پېژندپاڼه کې د ګډونوالو نومونه ثبت شوي دي. په دې تاريخي ليدنه کې شپږو افغانانو ګډون درلود.

- قاضي محمد عمر ببرک زی د رسمي ثبت شويو مالوماتو له مخې پخوانی قاضي ليکلي شوی.
- فريده احمدي د کابل پوهنتون د طب پوهنځي محصله وه.
- مير نعمت الله د لوګر ولايت له کليوالو څخه و.
- حبيب الرحمن هاشمي د لوګر له سيمې سره تړلی افغان ګډونوال و.
- ګل محمد د لوګر ولايت له کليوالو څخه و.
- محمد غفور يوسفزی په رسمي ثبت کې د مقاومت د يوه مشر په توګه ياد شوی دی.

د دې پلاوي په اړه يو مهم ټکی دا دی چې ټول ګډونوال د يوه واحد سياسي يا پوځي سازمان يا د جهادي تنظيمونو د غړو په توګه نه وو تللي؛ بلکې په هغوی کې د سيمې اوسېدونکي، يو پخوانی قاضي، د مقاومت يو مشر او د يوه طب پوهنځي يوه محصله شامله وه.
د دې ليدنې موخه يوازې د يوې تاريخي پېښې بيانول نه وو، بلکې افغان پلاوي غوښتل د شوروي ځواکونو د کړنو او په افغانستان کې د روانو ضعيت په اړه د امريکي او نړيوالو پام راواړوي. دوی هڅه کوله د افغانانو د مقاومت غږ تر نړيوالو ورسوي او د شوروي يرغل پر وړاندې د خپل ولس د مبارزې لپاره د امريکا سياسي او عملي ملاتړ ترلاسه کړي. د واشنګټن پوسټ خبريال پاتريک ټايلر هم په خپل راپور کې د دې ليدنې سياسي اړخ ته اشاره کړې ده.
دا ليدنه په داسې يوه حساس نړيوال سياسي وضعيت کې ترسره کېده چې د سړې جګړې سيالي خپل اوج ته رسېدلې وه. امريکا او شوروي اتحاد د نړۍ په بېلابېلو سيمو کې د نفوذ د پراخولو په سيالۍ کې ښکېل وو او افغانستان هم د دغې سيالۍ پر يوه مهم ډګر بدل شوی و. په همدې لړ کې د رونالډ ريګن اداري د شوروي اتحاد پر وړاندې د افغان مجاهدينو ملاتړ کاوه. له همدې امله له افغان پلاوي سره د ريګن ليدنه يوازې يوه عادي سياسي ناسته نه وه، بلکې د افغانستان د جګړې د نړيوال سياسي اهميت او د هغه وخت د سترو قدرتونو د سيالۍ څرګند انځور هم وړاندې کاوه.
په دې انځورونو کې مايکل بيري (Michael Barry) هم ليدل کېږي؛ هغه د سيمې د مطالعاتو څېړونکی و او د افغانانو د روايتونو پر نړيوال کچ د خپرولو په بهير کې مرسته کړې وه. د دې نومونو ثبت ځکه مهم دی چې د تاريخ په څېړنه کې عکس هغه وخت لا ډېر ارزښت پيدا کوي چې نېټه، ځای، ګډونوال او د پېښې اړوند اسناد يې هم مالوم وي.

د ۱۰۵ بېګناه انسانانو شهادت

د خپرو شويو نړيوالو راپورونو او د سيمې د عيني شاهدانو د روايتونو له مخې، په دې عام وژنه کې لږ تر لږه ۱۰۵ ملکي وګړي ووژل شول. ځينې روايتونه د قربانيانو شمېر تر ۱۸۰ تنو پورې هم يادوي؛ خو د ټولو قربانيانو د کره شمېر په اړه بشپړ او خپلواک اسناد لا هم تاريخي څېړنې ته اړتيا لري.
په وژل شويو کسانو کې ۱۱ ماشومان، سپينګيري، بزګران او نور بې وسلې کليوال شامل وو. هغوی د جګړې ښکېل لوري نه وو، بلکې عادي کليوال خلک وو چې د خپل ژوند د ژغورلو لپاره يې په کاريز کې پناه اخيستې وه.
د سيمه ييزو روايتونو له مخې، د قربانيانو جسدونه د اور له امله دومره سوځېدلي وو، چې د ډېرو پېژندل ستونزمن وو. د کلي پاتې اوسېدونکو شاوخوا اووه ورځې هڅه وکړه، چې د کاريز له منځه د خپلو خپلوانو او کليوالو جسدونه راوباسي او د هغوي د وروستي ارام ځای خپلې پلارنې هدېرې ته وسپاري.

د دې خونړۍ پېښې نړيوال افشا کېدل

د لوګر ولايت د پادخواب شانه کلي ښېنه؛ هغه پېښه چې نړۍ ته يې د افغانانو او شورويانو د جګړې بل انځور ور وښود.
د پادخواب شانه د عام وژنې د افشا کېدو په برخه کې د امريکايي څېړونکي او د افغانستان د جګړې د تاريخ ليکونکي مايکل بيري (Michael Barry) نوم هم ياد شوی دی. د خپرو شويو روايتونو له مخې، نومورې د پېښې د څېړلو لپاره سيمې ته سفر کړی و او د عيني شاهدانو څرګندونې يې راټولې کړې وې.
د دغو مالوماتو يوه برخه وروسته په نيويارک کې د خبرې کنفرانس له لارې نړيوالو رسنيو ته وړاندې شوه او د افغانستان د جګړې پر مهال د ملکي وګړو د وژنې موضوع يې د نړيوالو پام ته ورسوله.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ۱۹۸۲ کال د ډسمبر په ۱۴مه (خبري اژانس UPI) د ډیپلوماتانو د راپور پر بنسټ خبر ورکړ، چې شوروي ځواکونو د اوبو لګولو یوه تر ځمکې لاندې ویاله یا کاریز ته اور اخیستونکي مواد اچولي او هلته پناه اخیستونکي ۱۰۵ ملکي وګړي یې وژلي دي. په راپور کې د ماشومانو د وژل کېدو یادونه هم شوې وه. شوروي پلوه افغان خبري اژانس بختَر بیا دا پېښه رد کړې وه او د لوېدیځو رسنیو تبلیغات یې بللي وو.
د ریګن په شخصي ورځنۍ یادښت کې هم د ۱۰۵ کسانو د سوځول کېدو یادونه شوې ده. خو د تاریخي دقت لپاره باید ووایو، چې د ریګن یادښت د افغانانو له خوا وړاندې شوي روایت ثبتوي؛ خو په خپله د پېښې خپلواکه پلټنه نه ده.

د افغان تاریخ نه هېرېدونکي غمیزه؛ د پادخواب شانه د قربانیانو کیسه او د سړي جګړې په سیوري کې د افغانانو درد، د یوې غمیزې تاریخي او انساني انځور

د پادخواب شانه پېښه یوازې د یوه کلي د اوسېدونکو د وژل کېدو یوه دردناکه کیسه نه ده؛ بلکې د افغانستان د معاصر تاریخ د هغو تورو پاڼو له ډلې ده، چې د بهرني پوځي یرغل، جګړې او سیاسي سیالیو تر سیوري لاندې د بېګناه انسانانو د برخلیک انځور وړاندې کوي. په دې غمیزه کې ماشومان، ښځې، سپینګیري او بې وسلې کلیوال د جګړې قرباني شول؛ هغه انسانان چې نه یې د جګړې د پیل پرېکړه کړې وه او نه یې د جګړې په سیاسي او پوځي معادلو کې کوم رول درلود.
جګړه ښایي د ښکېلو لورو لپاره پوځي اهداف، سیاسي محاسبې او ستراتجیکي ګټې ولري، خو د دغو موخو په نوم د ملکي وګړو ژوند او انساني کرامت تر پښو لاندې کول هېڅ ډول توجیه نه لري. نړیوال بشردوستانه حقوق د جګړې د ښکېلو لورو ترمنځ د جګړې او ملکي وګړو ترمنځ روښانه توپیر کوي. د ملکي وګړو قصدي په نښه کول او ډله ییزه وژنه د نړیوالو بشردوستانه اصولو له مخې جدي سرغړونې دي.
د پادخواب شانه د قربانیانو یادونه یوازې د تېر تاریخ د یوې غمجنې پېښې یادول نه دي؛ دا د تاریخي حقیقت، انساني کرامت او عدالت د غوښتنې یوه برخه ده. د قربانیانو د نومونو او هویتونو ثبتول، د پېښې د اسنادو راټولول، د عیني شاهدانو د روایتونو خوندي کول او د بېلابېلو سرچینو پرتله کول هغه مسوولیت دی چې د تاریخ څېړونکي، لیکوالان او راتلونکي نسلونه یې پر غاړه لري.
تاریخ یوازې د پاچاهانو، ولسمشرانو، واکمنانو او جګړه مارانو په نومونو نه لیکل کېږي. د تاریخ تر ټولو دردناکې پاڼې ډېر ځله د هغو بېګناه انسانانو په برخلیک لیکل کېږي، چې د قدرتونو د سیالیو او جګړو په منځ کې خپل ژوند له لاسه ورکړی وي. د پادخواب شانه قربانیان هم باید د افغانستان له تاریخي حافظې څخه هېڅکله هېر نه شي.
د امریکا نامتو ورځپاڼې *واشنګټن پوسټ* د ۱۹۸۳ کال د فبروري په ۱۲مه د پادخواب شانه د پېښې په اړه یو تفصیلي راپور خپور کړ. د راپور لیکوال خبریال پاتریک ټایلر و. نومورې په خپل راپور کې د کلي د اوسېدونکو روایتونه، د وژل شویو کسانو نومړو او د پېښې په اړه د ترسره شویو پلټنو مالومات وړاندې کړل.
د راپور له مخې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم د پېښې په اړه خپلواک مالومات او راپورونه ترلاسه کړي وو؛ هغه مالومات چې د کلیوالو له روایتونو سره یې د پامونړ ورته والی درلود. دا راپور د دې پېښې د نړیوال انعکاس په برخه کې یوه مهمه تاریخي سرچینه ګڼل کېدای شي.
خو د تاریخي انصاف او څېړنیز امانت غوښتنه دا ده، چې د پېښې په اړه د هغه وخت د شوروي پلوه افغان حکومت رسمي دریځ هم له پامه ونه غورځول شي. نومورې حکومت ادعا کوله چې په کلي کې د حکومت مخالف وسله‌وال ځپلي دي او د ملکي وګړو د ډلې ییزې وژنې روایت یې رد کړی و.
د کابل حکومت انکار او د روایتونو ترمنځ اختلاف د پډخوآب شانه پېښې په اړه د هغه وخت د کابل حکومت او افغان کلیوالو روایتونه یو له بل سره توپیر درلود.
د شوروي پلوه افغان حکومت رسمي رسنیو ادعا کوله، چې په کلي کې د ,,انقلاب ضد عناصرو,, د ځپلو عملیات ترسره شوي دي. وروسته د کابل راډیو د پېښې د نه رامنځته کېدو خبره هم ورکړه.
د افغان حکومت په پاریس سفارت کې د پېښې د روایتونو د ردولو لپاره دا استدلال وړاندې شوی و. چې د اوبو کانال دومره تنګ دی چې دومره خلک په کې نه شي پټېدای. خو د پاریس د څېړنیزې ډلې غړو د خپل سفر پر مهال کانال لیدلی و او ویلي یې وو چې لوړوالی یې په منځني ډول له څلورو فوټو څخه زیات و.
د همدې لپاره، د پېښې هر اړخیزه ارزونه باید یوازې پر یوه روایت ولاړه نه وي. د کلیوالو شهادتونه، د وژل شویو کسانو نومړو، د بهرنیو خبریالانو راپورونه، د خپلواکو څېړونکو موندنې او د هغه وخت رسمي دریځونه باید له یو بل سره پرتله او په انتقادي ډول وارزول شي. تاریخي حقیقت هغمهال ښه روښانه کېدای شي چې د شواهدو، سرچینو او روایتونو ترمنځ توپیر په علمي امانتداری سره څرګند شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دلته یو مهم تاریخي ټکی هم د پامونړ دی: د ۱۰۵ کسانو د وژل کېدو شمېره یوازې د امریکا د ولسمشر رونالډ ریګن په یوه یادښت کې نه وه یاده شوې؛ د ریګن د لیدنې تر مخه هم په نړیوالو رسنیو کې د دې شمېرې په اړه راپورونه خپاره شوي وو او وروسته په نورو څېړنیزو روایتونو کې هم یادونه شوې ده. له همدې امله، د دغې شمېرې تاریخي ارزونه باید د هغې د لومړنیو سرچینو او مستندو شواهدو پر بنسټ وشي.

د امریکا موخه؛ بشري خواخوږي او د سړې جګړې سیاسي محاسبې

د پادخواب شانه د پېښې د تاریخي اهمیت او د افغانانو د امریکا سفر د ارزونې لپاره اړینه ده چې د هغه وخت نړیوال سیاسي وضعیت هم په پام کې ونیول شي. ځکه دا لیدنه یوازې یوه بشري او عاطفي پېښه نه وه؛ بلکې د سړې جګړې له پراخو سیاسي او ستراتیجیکو سیالیو سره هم تړاو درلود.
په ۱۹۷۹ کال کې افغانستان ته د شوروي اتحاد د پوځونو له ننوتلو وروسته، دغه هېواد د سړې جګړې په یوه مهم او خونړي ډګر بدل شو. د رونالډ ریګن اداري د شوروي اتحاد د نړیوال نفوذ د محدودولو سیاست تعقیباوه او د افغان مجاهدینو ملاتړ یې د خپلې بهرنۍ تګلارې یوه مهمه برخه ګرځولې وه. په دې بهیر کې پاکستان د امریکا او افغان مجاهدینو ترمنځ د مرستو او ملاتړ په لېږد کې مهم رول درلود.
د ۱۹۸۳ کال د فبروري په لومړیو کې د افغانانو سفر یوازې سپېنې مانۍ ته په ورتګ نه محدودېده. د *واشنګټن پوسټ* د هماغه وخت د راپور له مخې، دغو افغانانو تر دې لیدنې وړاندې په نیویارک کې هم خپلې تجربې او روایتونه له خلکو سره شریک کړي وو او په پاریس کې د یوې نړیوالې غونډې ګډونوالو ته د پېښې په اړه خپل شهادت وړاندې کړی و.
د راپور له محتوا څخه څرګندېږي، چې د دغو افغانانو هڅه یوازې د یوې غمېزې بیانول نه وو؛ هغوی غوښتل د شوروي ځواکونو د کړنو په اړه نړیواله پاملرنه راجلبه کړي او په عین وخت کې د افغان مقاومت لپاره د امریکا سیاسي او عملي ملاتړ هم ترلاسه کړي.
همدا ټکی د دې تاریخي لیدنې سیاسي او انساني اړخونه سره نښلوي. له یوې خوا، د پادخواب شانه د قربانیانو د برخلیک، د ملکي وګړو د ځوروني او د جګړې د بشري پایلو د بیانولو هڅه روانه وه؛ له بلې خوا، امریکا هم د خپلو ستراتیجیکو ګټو له مخې د دغو روایتونو سیاسي اهمیت درک کاوه.
له همدې امله د دې لیدنې ارزونه باید نه یوازې د بشري خواخوږۍ په چوکاټ کې وشي او نه هم یوازې د سړې جګړې د تبلیغاتي سیاست یوه برخه وګڼل شي. دا دواړه اړخونه په یوه تاریخي شېبه کې سره یو ځای شوي وو.
د جګړې تر شا د انسانانو ناویلي کیسې د دغې تاریخي لیدنې یو له مهمو اړخونو څخه دا و، چې افغانانو هڅه کوله نړیوالو ته یوازې د پوځي مقاومت انځور وړاندې نه کړي، بلکې د جګړې تر شا د عادي انسانانو دردونه هم ور وښیي.
هغوی د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې، د ښځو د بندي کېدو، شکنجو، ځوروني او د جګړې په ترڅ کې د بېګناه خلکو د کړاوونو کیسې بیانولې. دا هغه واقعیتونه وو، چې د جګړې په پوځي او سیاسي راپورونو کې ډېر ځله د لوبو پېښو او ستراتجیکو تحلیلونو تر سیوري لاندې پاتې کېدل.
د پادخواب شانه غمېزه مورِ ته دا را زده کوي، چې د جګړې د تاریخ لیکنه باید یوازې د پوځونو د خوځښتونو، سیاسي پرېکړو او نظامي بریاوو په بیانولو محدوده نه شي. د تاریخ اصلي انساني ځېرې هغمهال راڅرګندېږي چې د قربانیانو غږونه واورېدل شي، د هغوی نومونه ثبت شي او د هغوی د ژوند او مرګ کیسې د راتلونکو نسلونو لپاره خوندي شي.
د پادخواب شانه قربانیان یوازې د تېر وخت د یوې غمېزې نومونه نه دي؛ هغوی د هغو بېګناه انسانانو استازیتوب کوي چې د جګړې په اور کې یې خپل ژوند بایللی دی. د هغوی یاد ساتل د تاریخ د امانت ساتل، د انساني کرامت درناوی او د راتلونکو نسلونو پر وړاندې زمورِ اخلاقي مسوولیت دی.

د عکس تر شا تاریخ؛ ولې دا لیدنه نن هم ارزښت لري؟

نن چې د امریکا د ولسمشر رونالډ ریګن او افغانانو دغه تاریخي عکس په ټولنیزو رسنیو کې خپرېږي، ډېری وخت یوازې د ,,ریګن له افغان مجاهدینو سره،, تر سرلیک لاندې معرفي کېږي؛ خو د دې انځور تاریخي ارزښت تر دې لنډې پېژندنې ډېر پراخ دی.
دا عکس د یوه مستند تاریخي ملاقات شاهد دی. د امریکا د ولسمشرۍ کتابتون د لیدنې نېټه، ځای او ګډونوال ثبت کړي، د ریګن شخصي یادښت د لیدنې موضوع روښانوي او د هغه وخت رسنیز راپورونه د لوګر د پادخواب شانه د پېښې او د افغانانو د نړیوال سفر په اړه نور جزئیات وړاندې کوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې لیدنې اهمیت په دې کې نغښتی دی چې د جګړې په منځ کې د افغان ملکي وګړو د کړاوونو، د یوه کلي د قربانیانو او د هغوی د کورنیو غږ د امریکا تر ولسمشره ورسېد او په رسمي امریکایي اروپایي اسنادو کې ثبت شو.

د پېښې نړیوال مستندات

د پډخوآب شانه د پېښې په اړه یوازې د واشنګټن پوسټ راپور موجود نه دی. د ۱۹۸۲ کال د ډسمبر په ۱۴مه د یونایټډ پریس انټرنېشنل (UPI) خبري اژانس هم د ۱۰۵ افغانانو د وژل کېدو په اړه راپور خپور کړي. په هغه راپور کې د مایکل ببري د څېړنې او د شوروي تر کنټرول لاندې د افغان خبري اژانس د انکار یادونه شوې وه.
همدارنګه، په ۱۹۸۵ کال کې د امریکا د کانګرس په رسمي اسنادو کې د پډخوآب شانه پېښه یاده شوې وه. په دغو اسنادو کې د ۱۹۸۲ کال د سپټمبر د ۱۳مې نېټه، د لوګر ولایت، د شاوخوا ۱۰۵ وژل شویو کسانو او د ۱۲ ماشومانو یادونه شوې ده. دا اسناد ښیي چې د پېښې موضوع د ۱۹۸۰مې لسیزې په نړیوالو سیاسي او بشري حقونو بحثونو کې هم مطرح شوې وه.

زما خپله تاریخي ارزونه

د پادخواب شانه پېښه د افغانستان د معاصر تاریخ یوه دردناکه او د یادونې وړ پاڼه ده. د ۱۹۸۳ کال په فبروري کې یو شمېر افغانان له ولسمشر رونالډ ریګن سره ولیدل، څو په خپل کلي کې د شوروي ځواکونو د پوځي عملیاتو او د ملکي وګړو د ډله ییزې وژنې په اړه خپل روایتونه ورسره شریک کړي. هغمهال د افغانستان جګړه له درېیو کلونو زیاته موده روانه وه او د افغانانو هڅه دا وه چې د جګړې تر سیاسي او پوځي بحثونو هاخوا، د ولسونو انساني کړاوونه هم نړیوالو ته ورسوي.
البته، دغه لیدنه باید د سړې جګړې له سیاسي شرایطو جلا ونه څېړل شي. د شوروي پوځي حضور، د افغان مقاومت، د امریکا ستراتیجیکي موخې او د پاکستان له لارې د مرستو لېږد ټول د دې تاریخي لیدنې د شالید مهم اړخونه دي.
په پای کې، د دې عکس اصلي پیغام دا دی چې تاریخ یوازې د ولسمشرانو، پوځونو او سیاسي پرېکړو تاریخ نه دی؛ بلکې د هغو بېګناه انسانانو کیسې هم دي چې د جګړو قرباني شوي دي. د تاریخ مسوولیت دا دی چې د هغوی غږ ژوندی وساتي، شواهد ثبت کړي او د هرې پېښې په اړه د حقیقت موندلو هڅه وکړي.

تاریخي پایله؛ د قربانیانو د نومونو او روایتونو د ساتنې مسوولیت

د ۱۹۸۳ کال د فبروري دویمه د افغانستان او امریکا په تاریخي اړیکو کې د یادونې وړ ورځ ده. په دې ورځ شپږ افغانان د خپل هېواد د جګړې، د ملکي وګړو د کړاوونو او د لوګر د پادخواب شانه د خونړۍ پېښې د بیانولو لپاره د امریکا د ولسمشر رونالډ ریګن حضور ته ورغلل. د دې لیدنې عکسونه او رسمي یادښتونه نن هم د امریکا د ولسمشرۍ په تاریخي آرشیف کې خوندي دي.
د دې لیدنې تر ټولو مهم تاریخي پیغام دا دی، چې د یوه ملت تاریخ یوازې د واکمنانو او سیاسي پرېکړو له مخې نه بشپړېږي؛ د عامو خلکو شهادتونه، د قربانیانو برخلیکونه او د عیني شاهدانو روایتونه هم د تاریخي حقیقت مهمې برخې دي. البته، د تاریخي حقیقت د روښانولو لپاره باید دغه روایتونه له خپلواکو راپورونو، مستندو اسنادو او د پېښې له سیاسي شرایطو سره یو ځای وڅېړل شي.
د پادخواب شانه د پېښې په اړه د وژل شویو کسانو د نومونو ساتل، د عیني شاهدانو د څرګندونو ثبتول او د پېښې د ځای څېړل د تاریخي مستند کولو مهمې هڅې دي. د حبیب الرحمن هاشمي له خوا د قربانیانو د نومونو ساتنه، د مایکل ببري او ریکارډو فرایلي څېړنې، د *واشنګټن پوسټ* ژورنالیستي راپور او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مالومات د دې پېښې د تاریخي ارزونې لپاره ارزښتناکې سرچینې بلل کېږي.
د تاریخي انصاف غوښتنه دا ده چې د قربانیانو نومونه، د کورنیو دردونه او د شاهدانو څرګندونې د سیاسي تبلیغاتو تر سیوري لاندې ورک نه شي. هره ادعا باید له شواهدو سره وارزول شي او د قربانیانو د شمېر او د پېښې د جزئیاتو په اړه موجود اختلافونه په علمي صداقت بیان شي.
پادخواب شانه یوازې د یوه کلي نوم نه دی؛ دا د هغو بېګناه افغانانو د ژوند، درد او برخلیک تاریخي روایت دی، چې د جګړې په منځ کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. د هغوی د نومونو او کیسو ژوندي ساتل یوازې د تېر تاریخ یادونه نه ده، بلکې د راتلونکو نسلونو پر وړاندې زموږ تاریخي، افغاني، انساني او اخلاقي مسوولیت دی. د هغوی یاد ساتل د افغانستان د معاصر تاریخ د مستندولو یوه مهمه برخه ده.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ځېړنې مهمې سرچینې:

* Ronald Reagan Presidential Foundation & Institute —
* Ronald Reagan Presidential Library —
* The Washington Post —
* United Press International —
* Ronald Reagan Presidential Library— White House Diaries—
* Public Papers of The Presxidents-1983 Appendix

د لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران آرشیف

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ